ملګري ملتونه

د امنیت شورا،

ویش: عمومي

د مارچ ۲۳ نیټه کال ۲۰۰۹

**د پریکړه لیک شمیره ۱۸۶۸ (۲۰۰۹)**

**د امنیت د شورا مصوبه په ۶۰۹۸ مه ناسته کې، نیټه ۲۳ د مارچ کال ۲۰۰۹**

"شورای امنیت"

د افغانستان په اړه د خپلو پخوانیو پریکړه لیکونو په ځانګړي ډول د ۱۸۰۶ (۲۰۰۸) لمبر پریکړې په تایید چې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستی پلاوي (یوناما) صلاحیت د۲۰۰۹ د مارچ تر ۲۳ پورې تمدید کړي او په ۲۰۰۶ کې د ۱۶۶۲ پریکړه لیک کې د ۱۶۵۹ لمبر پریکړه لیک په تاییدولو سره چې په (۲۰۰۶) کې یې د افغانستان تړون لیک تصدیق کړ، او همدارنګه په افغانستان کې د امنیت شورا د هییت رپوټ چې د ۲۰۰۸ د نومبر د میاشتی له ۲۱ تر ۲۸ نیټې پورې تر سره شوی (S/2008/782)، په یادولو سره؛

د افغانستان د حاکمیت، خپلواکي، ځمکنی بشپړتیا او ملي یو والی په تاییدولو سره،

په دې باندې په ټینګار کولو سره چې په افغانستان کې د وضعې د ښه کولو لپاره یو جامع تګ لورې ډیر مهم دی او د دې حقیقت په تاییدولو سره چې په افغانستان کې د ثبات لپاره د پوځی ځواک کارول یواځنی لار نه ده،

د افغانستان د دولت او خلکو په وړاندې د خپل دوامداره ملاتړ په تاییدولو سره چې خپل هیواد بیا جوړوي، د پایښت لرونکی سولې او د اساسي قانون د لارې د دموکراسی بنسټونه پیاوړي کوي، او د ملتونو په ټولنه کې خپل بر حقه ځای نیسي،

په دغه محتوا کې د خپل ملاتړ په بیا تائیدولو سره چې د افغانستان د خلکو تر مالکیت لاندې د افغان تړون لیک، د افغانستان د ملي پرمختیا د ستراتیژی، او د مخدره توکو د کنترول ملي ستراتیژي له پلی کولو سره مرسته کوي، او د دې ټکی په یادولو سره چې د ټولو اړونده فعالینو ځواکمنو او همغږو هڅو مکلفیت یوه اړتیا ده ترڅو د دغو شیانو د پلی کولو په لار کې ځواکمن پرمختګ او پرله پسې ننګوني باندې بر لاسی تر لاسه شي،

په دې يادولو سره چې د افغانستان ترون ليک د افغانستان د دولت او د نړيوالي ټولني تر منځ د شراکت پر بنسټ اينبودل شوی، د افغانستان لپاره د ټولو خواوو له خوا په دې ليواليتا ولاړ دی، چې دغه هيواد په پرمختلونکی توګه د خپلې پراختيا او امنيت مسووليت پخپله غاړه واخلي او ملګري ملتونه د همغږۍ يو مرکزي او بيطرفانه رول لري،

د هغه مرکزي او بې طرفه رول په تاييدولو سره چې په افغانستان کې ملګري ملتونه د سولې او ټيکاو د ښه والی لپاره د نړيوالې ټولني د هلو ځلو د رهبري کولو له لارې يې د افغانستان د دولت سره يو ځای د افغانستان د ترون ليک په پلی کولو کې د همغږۍ او نظارت هڅې کوي او په افغانستان کې د سرمنشي او هغه ځانګړي استازی او د يوناما د نارينه او ښځينه غړو له روانو کوښښونو سره خپل د خوښې قدردانۍ او قوي ملاتړ څرګندوي،

په افغانستان کې د ټيکاو او پرمختيا لپاره د نړيوالی ټولنی پر له پسی ملاتړ او تعهد په ستايلو سره، او همدارنګه په دې اړوند د نړيوالی ټولنی د نوښت او د افغانستان په اړه د شانګهای د همکارۍ سازمان د ځانګړي غونډې چې د ۲۰۰۹ کال د مارچ په ۲۷ نيټه په ماسکو کې جوړيږي او د افغانستان په اړه نړيواله غونډه چې د ۲۰۰۹ کال د مارچ په ۳۱ نيټه به په هاګ کې دايره شی، ، او همدارنګه د جی ۸ د وزيرانو پراخه غونډه چې د ۲۰۰۹ کال د جون د مياشتی په ۲۶ او ۲۷ نيټه به د ايتاليا په ترايستی کې جوړه شی، په ستايلو سره،

د روانو هڅو په تاييدولو سره چې، د يوې منظمې، پرانيستې، عادلانه او د موکراتيکې هغې پروسې يقين ورکوي چې د ټولټاکنو پر مهال د ټيکاو او امنيت ساتنه وکړي د هغو ننګوونو په پوهاوي سره چې د افغانستان د ټولټاکنو خپلواک کميسيون ورسره په برياليتوب مجادله کوي او همدارنګه د دې کميسيون له خوا د اعلان په هر کلی سره چې د ولسمشرۍ اوولايتي شوراګانو ټولټاکنې به د ۲۰۰۹ په اګست کې ترسره شي؛

يو ځل بيا په افغانستان کې د چيلنجونو د يو تر بله نښليدلې حالت په تائيدولو او تاکيد سره، چې د امنيت دوامداره پراختيا، حکومتدارۍ او پرمختيا او د مخدره توکو ګډې مسالی په متقابل ډول سره يو بل پياوړي کوي، او د افغانستان د حکومت او نړيوالی ټولنی د پر له پسی کوښښونو په هر کلی سره، چې غواړي دغو ننګونو ته د يوه هر اړخيز چلند له لارې رسيدنه ولري؛

په افغانستان کې د ننګونو د حل په برخه کې د يوه هر اړخيز روش په اهميت په ټينګار کولو سره او په دی زمينه کې، د يوناما او او ايساف د ګډو همکاريو په هدفونو کې او د يوې پياوړې همکارۍ، همغږۍ او متقابل ملاتړ باندې په ټينګار کولو سره او د هغوي د اړوندو ټاکل شويو مسووليتونو د مناسب جاج اخيستلو سره؛

پر دی تاکید کولو سره چي بشري وضعی ته په بیره، د ښه لاسرسی  او د بشري مرستو د کمیت او کیفیت د ښه کولو په ذریعه رسیدګی وشی، او د ملګرو ملتونو د موسساتو، پروګرامونه او پیسی چي د عمومی منشی د ځانګړی استازی تر مسوولیت لاندی او د ملګرو ملتونو او دونرانو تر منځ د یوې ښې او پیاوړې همغږې له لارې او په ولایتونو کې د ملګرو ملتونو د بشري مرستو د پراخولو له لارې، چیرته چې دغو مرستو ته ډیره اړتیا شته،  بشري مرستی په موثره او ګټور ډول ورسول شی،

د بشري مرستو پر کارکوونکو باندی د زیات شویو بریدونو په غندني او ټولو خواو ته د دې اړتیا په روښانه کولو سره چې د بشري مرستو ټولو فعالینو، د ملګرو ملتونو او د هغو سره مل کارکوونکو ته له تبعیضه پرته مصؤنه لاسرسی تامین او د نړۍ وال بشردوستانه قانون په بشپړه توګه رعایت شي؛

په افغانستان کې د امنیت په اړه د خپلي اندیښنی په بیا یادولو سره په خاص ډول د طالبانو، القاعده، نا قانونه وسله والو ډلو جنایت کارانو او ټولو هغو عناصرو چې د نشه یی توکو په سوداګرۍ بوخت دي د خشونت او ترهګریز فعالیتونه ، او د ترهګرۍ او د نا قانونه نشه یي توکو د سوداګرۍ تر منځ زیاتیدونکي قوي اړیکي چي په نتیجه کې ملکی خلکو ته ، د ماشومانو، ملي امنیتي ځواکونو او نړیوالو پوځي او ملکي کارمندانو په ګډون، ګواښونه منځ ته راځي،

د خپلي زیاتي اندیښني په څرګندولو سره چي د طالبانو او القاعده او نورو افراطي ډلو د خشونت او ترهګریزو فعالیتونو په نتیجه کې زیان راوړوونکي عواقب راوړي او د افغانستان د دولت ظرفیت د قانون د حاکمیت لپاره کمزوری کوي څو د افغانستان وګړو ته امنیت او بنسټیز خدمات برابر کړي او د هغوي د بشري حقونو او بنسټیزو آزادیو د ساتني د ښه والی باور رامنځته کړي؛

د هغه زیاتیدونکی ګواښ د پوهاوي سره چي د طالبانو، القاعده او نورو افراطی ډلو له خوا متوجه دی او همدارنګه د هغو ننګوونو په پوهیدلو سره چي د دغو ګواښونو د مخنیوي په لار کې دي؛

د امنیت شورا د ۱۶۷۴ (۲۰۰۶) او ۱۷۳۸ (۲۰۰۶) لمبر پریکړه لیکونو په یادوني سره چي په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتني په اړه دي، د هغي زیاتي شمیر ملکي تلفاتو په اړه د اندیښني په څرګندولو سره چي د افغانستان د حالاتو په اړه د ملګرو ملتونو د سرمنشي په راپور کې راغلي دي، په دې تاکید سره چي هر ډول ممکنه قدمونه د پورته شي چي ملکي وګړي وساتل شي او د ټولو هغو ایجاباتو لپاره غږ کوي چي د بشرپالني او بشري حقونو په نړیوالو قوانینو کې د تطبیق وړ دي؛

د هغه زیاتیدونکي ګواښ په اړه د اندیښني په څرګندولو سره چي د پرسونل ضد ماینونه،د جګړې پاتي شوني او ځای پر ځای شوی چاودیدونکي توکي یي ملکي وګړو ته پیښوي او په دې اړتیا په ټینګار کولو سره چي د هغو وسلو او وسایلو څخه ډډه وشي چي د نړیوال قانون له مخي د هغو کارول ممنوع دي؛

د هغې اعلامیې په هر کلي کولو سره چې د افغانستان د حکومت له خوا د نشه يي توکود کنترول نړيوال بورد په نامه صادره شوې ده چې په هغې کې راغلي دي چې په افغانستان کې اسيتيک انهايدرايت د کاروني قانوني جواز تر يوه وخت پورې نه شته او دا چې توليدونکی او صادرونکی هيوادونه بايد د دغې مادې افغانستان ته پرته د افغان دولت د اجازې څخه د صادرولو جواز ور نه کړي، او د ۱۸۱۷ (۲۰۰۸) پريکړه ليک په تاييدولو سره چې غړی دولتونه هڅوي چې د (INCB) سره خپله همکاري زياته کړي، په تيره بيا د نشه يي توکو د غير قانوني ترافيک او سايکو تروپيک موادو په ضد د ملګرو ملتونو د کنوانسيون د ۱۲ مادې د ټولو موادو په پيروۍ سره؛

د ښه ګاونډيتوب د اړيکو په باره کې د ۲۰۰۲ د دسمبر د ۲۲ د کابل د اعلاميې (S/2002/1416) د اهميت په يادولو سره د افغانستان په باره کې د سيمه ييزې همکارۍ دريم کنفرانس ته په تمه کتل چې په اسلام آباد کې به جوړيږي او د سيمه ييزې همکارۍ د بهتر کولو په حياتي اهميت باندې په ټينګار کولو سره چې د يوې اغيزناکې وسيلې په حيث په افغانستان کې سوله، حکومت کول او پرمختيا پياوړې کړي؛

د افغانستان- پاکستان د سولې د جرګې د بهيرونو څخه د خپل ملاتړ په باوري کولو سره؛

د ۱۲۶۵ (۱۹۹۹)، ۱۲۹۶ (۲۰۰۰)، ۱۶۷۴ (۲۰۰۶) او ۱۷۳۸ (۲۰۰۶) پريکړو په يادولو سره چې په وسله واله شخړه کې د ملکيانو د ساتنې په باره کې وي، د ۱۳۲۵ (۲۰۰۰) او ۱۸۲۰ (۲۰۰۸) لمبر پريکړو په يادولو سره چې د ښځو، سولې او امنيت په باره کې وی او ۱۶۱۲ (۲۰۰۵) لمبر پريکړه د ماشومانو او د جګړييزې شخړې په باره کې او په افغانستان کې د ماشومانو او وسله والې جګړې په اړه د سرمنشي د (S/2008/695) پريکړه ليک په پام کې نيولو سره

"۱. د سرمنشی د ۲۰۰۹ د مارچ د ۱۰ نېټې د رپوټ هر کلی کوي، (S/2009/135)؛

" ۲. د ملګرو ملتونو د اوږد مهال ژمنتوب درناوی کوي، چې د افغانستان له دولت او خلکو سره کار کوي، او د يوناما او د سرمنشي د ځانګړی استازی د کارپوره ملاتړ څرګندوي؛

" ۳. پريکړه کوي چې د يوناما ماموريت اوږد کړي لکه څرنګه چې د شورا په ۱۶۶۲ (۲۰۰۶) او ۱۷۴۶ (۲۰۰۷) او ۱۸۰۶ (۲۰۰۸) لمبر پريکړو کې د ۲۰۱۰د مارچ تر ۲۳ پورې تمديد شوی دی،

"۴. بيا هم پريکړه کوي، چې يوناما او د سرمنشي ځانګړی استازی به د خپلو ماموريتونو په دننه کې او د افغان مالکيت او مشرتابه د اصل د بيا پلی کولو په لاربښوونې سره د نړيوالو هڅو مشرتابه ته د هغو لومړيتوبونو سره دوام ورکړی چې د (۲۰۰۸) ۱۸۰۶ لمبر پريکړه ليک په ۴ پراګراف کې راغلي دي، چې:

أ. د انسجام او نظارت د ګډ هئیت (JCMB) د ګډ رئیس په توګه د افغانستان د دولت لپاره د نړیوالي ټولنې لا زیات منسجم کومک بهتر کړي او د مرستې د اغیزناک توب سره به د هغو اصولو پیروي کوي چې د افغانستان په تړون لیک کې یاد شوی دی د دې په ګډون سره لکه د زیرمو برابرول، د هغې مرستې همغږي کول چې د نړیوالو مرستندویانو او موسسو له خوا برابره شوې او د ملګرو ملتونو د نمایندګیو د ونډو، پانګو او پروګرامونو لاربنوونه په خاص ډول د نشه یې توکو ضد، د بیا ودانولو او پراختیایي فعالیتونو لپاره؛

ب. د موجودو ماموریتونو پر بنسټ په ټولو کچو او په ټول هیواد کې له ایساف سره همکاري پیاوړې کړي چې په دې توګه ملکي- پوځي همغږي بهتره کړي، د معلوماتو په موقع راکړه ورکړه او تبادله اسانه کړي، او د ملي او نړیوالو امنیتي ځواکونو د فعالیتونو تر منځ همغږي او د ملکي فعالینو ملاتړ د افغانستان په مشرۍ د پراختیا او د ټیکاو راوستلو د پروسې لپاره د ولایتي بیا رغونې له ټیمونو او نادولتي موسسو د ګډون له لارې تامین کړي؛

ت. په ټول هیواد کې د یوه پیاوړي او پراخ شوي حضور له لارې سیاسي پراختیا تامین کړي، په محلي کچه د افغان تړونلیک، د ANDS او د نشه یي توکو د کنترول د ملي ستراتیژۍ پلي کول بهتره کړي، او د دولت په پالسیو کې شمول او پوهاوی اسانه کړي؛

ث. که چیرې د افغانستان د دولت له خوا وغوښتل شي، د افغانستان د اساسي قانون په چوکاټ کې د ننه د افغانستان په مشرۍ د پخلاینې د پروګرامونو په پلې کولو کې د ښه نیت په مرستو سره ملاتړ وکړي او په بشپړ احترام سره هغه اقدامات پلی کړي چې د امنیت شورا په ۱۲۶۷ (۱۹۹۹) لمبر پریکړه لیک او د دغې شورا په نورو پریکړو کې ښودل شوې دي؛

ج. د حکومتدارۍ اود قانون دحاکمیت دتقویت او  د ښه والی د هڅو ملاتړ وکړي څو له فساد سره په محلي او په ملی کچه مبارزه وکړي او د پرمختیا نوښتونه په محلی کچه بهتر کړي په دې نظر چې د سولې د ګټو له منځ ته راوړلو سره مرسته وکړي او خدمتونه په خپل وخت او پایښت لرونکې توګه ورسوي؛

ح. د بشرپالنې له اصولو سره سم د همغږۍ مرکزي رول ولوبوي چې د بشري مرستې رسول اسانه کړي او د افغان دولت د ظرفیت د لوړولو په پام کې نیولو سره او د اغیزناک ملاتړ کولو په ګډون له ملي او محلي چارواکو سره د داخلي بیځایه شویو کسانو سره د مرستو او ژغورنې په برخه کې او د داسې شرایطو په منځ ته راوړلو کې، چې د کډوالو او داخلي بیځایه شویو لپاره د خپلې خوښې، عزتمنه او په پایښت لرونکي توګه  د راستنیدلو شرایط رامنځته کړي؛

خ. د ملګرو ملتونو د بشري حقونو عالی کمیشنر د دفتر په مرسته دې کار ته دوام ورکړي چې د افغانستان د بشر د حقونو له خپلواک کمیسیون سره همکاري وکړي او همدارنګه له اړونده ملي او محلي نادولتي موسسو سره همکاري وکړي چې د ملکي وګړو وضعه تر څارنې لاندې ونیسي او د دوي د ساتنې په غرض مرستې همغږې کړي او د هغو اساسي ازادیو او بشري حقونو د حکمونو د بشپړ تطبیق نظارت وکړي چې د افغانستان په اساسي قانون او هغو نړیوالو تړونونو کې راغلي دي چې افغانستان یې غړیتوب لري په خاص ډول د هغو احکامو چې د ښځو له خوا د هغوي د بشري حقونو د بشپړې ګټې اخیستنې په اړوند دي؛

د. د افغاني مقاماتو په غوښتنه، د جمهوري ریاست د راتلونکو ټول ټاکنو لپاره چمتوالی ، په خاص ډول د افغانستان د ټول ټاکنو د خپلواک کمیسیون له لارې د تخنیکي مرستې په برابرولو سره د نورو نړیوالو تمویل کوونکو او مرستندویه نمایندګیو او سازمانونو د مرستې همغږي او د موجود او اضافي لګښتونه تنظیم کړي چې د دغې پروسې د ملاتړ لپاره تخصیص کړای شوي دي؛

ذ. د سیمه ییزې همکارۍ څخه د یوه با ثباته او سوکاله افغانستان په لور د کار کولو په موخه ملاتړ کوي؛

"۵. د افغاني او نړیوالو اړخونو څخه غوښتنه وشي چې یوناما سره د نوموړې دفتر د اختیاراتو د پلي کولو په برخه کې همکاري وکړي ترڅو د ملګرو ملتونو او اړوندو کارکوونکو ته په هیواد کې په امنیت سره د آزاد ګرځیدلو هڅو ته وده ورکوي؛

" ۶. د یوناما او ملګرو ملتونو د نورو نمایندګیو د پیاوړې کولو او موجودیت د غزولو او په ولایتونو کې د پروګرامونو او تمویل په اهمیت تاکید وشي، عمومي منشي د موجوده هڅو تعقیبولو ته هڅوي چې د دغه ډول پیاوړتیا او پراختیا سره تړاو لري، او د سرمنشي د ځانګړې استازې د واک د برجسته کولو په لار کې چې په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د نورو نمایندګیو، تمویلونو او پروګرامونو د همغږي کولو په برخه کې دي، کار کوي؛

" ۷. د افغانستان د راتلونکې دیپلوماتیکي پرمختیا لپاره د جمهوري ریاست او د ولایتي شوراګانو د راتلونکو ټولټاکنو پر اهمیت باندې د ټینګار سره د ټولو هغو هلو ځلو لپاره غږ کوي چې د انتخاباتو اعتبار، خوندي توب باوري کړي، د یوناما د کلیدي رول او دندې په پوهاوي سره د افغانستان د دولت د غوښتنې له مخې د انتخاباتو د پروسې ملاتړ کوي، او ددې لپاره د نړۍ والی ټولنې پر غړو غږ کوي څو چې ددې لپاره لازمي مرستې برابرې کړي؛

" ۸. په افغان حکومت، نړیوالې ټولنې او نړیوالو سازمانونو غږ کوي چې د افغانستان تړون لیک او د هغه ضمیمې پر بشپړه توګه پلي کړي او په دغه زمینه کې د افغانستان د تړون لیک د معیارونو او زماني

هدفونو د تطبیق په اهمیت د امنیت، حکومت کولو، د قانون د حاکمیت، بشري حقونو، اقتصادي او ټولنیزې پرمختیا او همدارنګه د نشه يي توکو د څو اړخیزو مسالو په هکله پرمختګ باندې ټینګار کوي،

" ۹. د افغانستان د تړون لیک نظارت او پلی کولو کې د اسانتیاوو د برابرولو او همغږۍ کې د JCMB لوبول شوی مرکزی رول بیا تائیدوي، او پر ټولو اړوندو فعالینو غږ کوي چې په دې اړوند د JCMB سره همکاري وکړي؛

" ۱۰. پر نړیوالو مرسته کوونکو او موسسو او پر افغان دولت غږ کوي چې خپل هغه ژمنتوب ترسره کړي چې د افغانستان د ملاتړ لپاره يې په هغه نړیوال کنفرانس کې کړی دی چې د ۲۰۰۸ کال د جون پر ۱۲ نېټه په پاریس کې جوړ شو او د نورو هغو هلو ځلو پر اهمیت ټینګار کوي چې د مرستو د همغږۍ او اغیزمنتیا لپاره د شفافیت او د فساد سره د مبارزې د باوري کولو په شمول ترسره کیږي؛

" ۱۱. د نړیوالې ټولنې په مرسته، د افغانستان له حکومت، ایساف ځواکونو او د پایدارې سولې د عملیاتو د ځواکونو څخه غوښتنه کوي څو هغوی ته د ورسپارل شویو مسولیتونو سره سم لکه څنګه چې هغوی تکامل کوي، خپلو هڅو ته دوام ورکړي څو د افغانستان د سولې او ثبات پر ضد له هغو ګواښونو سره چې د طالبانو، القاعدې، نا قانونه وسله والوډلو، جنایتکارانو او د نشه يي توکو په سوداګرۍ کې د ښکیلو ډلو له خوا متوجه دي، فعالیت وکړی؛

" ۱۲. ټول بریدونه د ځای پر ځای شویو چاودونکی توکو (IED ) د بریدونو، د ځانمرګي بریدونو، تښتونو، د ملکي کسانو، افغانو او نړیوالو ځواکونو د هدف نیول، د افغانستان په ثبات، بیا رغونې او په پرمختیایی هڅو کې د هغوي ناوړې اغیزې، او د طالبانو او نورو افراطي ډلو له خوا ملکی کسان د انساني سپر په ډول کارول په خورا سختو الفاظو غندي،

" ۱۳. هغه لاسته راوړنی او پلی شوی پروګرامونه چې تر دی مهاله د افغانستان د ماین پاکولو د پروګرام له خوا تر سره شوي ستایی او د افغانستان حکومت هڅوي چې د ملګرو ملتونو او نور اړوندو فعالینو په ملاتړ سره خپلو کوښښونو ته د پرسونل او ټانک ضد ماینونو او د جګړو څخه پاتی شوی ناچاودو توکو د پاکولو په وړاندې دوام ورکړي چې په هیواد کې د انسانانو ژوند ، سولی او ټیکاو ته د دغو توکو ګواښ ټیټ کړی.

" ۱۴. ایساف او د نورو نړیوالو ځواکونو له خوا هڅي ستایي چې د ملکي کسانو د تلفاتو د کمولو په موخه کیږي او له دوي څخه غواړي چې په دې لار کې ګړندې ګامونه اوچت کړي، او په دې زمینه کې د ملکي تلفاتو د خطر کمولو په موخه د ایساف او نورو نړیوالو ځواکونو، غښتلي عملي هڅي، په تیره بیا د افغانستان د حکومت په همکارۍ د هغو قضیو په اړه چې د ملکي تلفاتو د پیښیدو په هکله ریوټ شوي دي او د تاکتیکونو، طرزالعملونو او عملیاتو وروسته د تنظیم د چارو دوامداره بیا ارزونه غواړي؛

" ۱۵. په افغانستان کې ټولو بندي خانو او توقیف ځایونو ته، لکه څنګه چې د اجرا وړ وي د اړوندو سازمانونو لپاره د لاس رسي د حاصلولو د اهمیت پر سر تاکید، او همدارنګه د نړیوالو اړوندو قوانینو، د بشرپالني او بشري حقونو د قوانینو د بشپړ درناوي غوښتنه کوي؛

"۱۶. په افغانستان کې د طالبانو له خوا د ماشومانو د کارولو او استخدام او همدارنګه د شخړو په نتیجه کې د ماشومانو وژني او معیوب کیدو په هکله د کلکې اندیښنې اظهار، د یوځې شخړو په وضیعتونو کې د تنکیو عسکرو کارول او استخدام له منل شویو نړیوالو قوانینو سرغړونه او د نورو ټولو سرغړونو او ناوړه استعمال او د جګړو په جریان کې له ماشومانو څخه ناوړه استفاده، خاصتا په ښوونځیو باندې بریدونه غندي، او د هغو کسانو عدالت ته راغوښتل غواړي چې د دې کارونو مسوولین دي. پدې زمینه کې د امنیت د شورا د ۱۶۱۲ (۲۰۰۵) شمیرې پریکړه لیک د پلی کیدو په اهمیت ټینګار، له عمومي منشي څخه غوښتنه کوي چې د یوناما د ماشومانو د ساتنې برخه په خاص ډول د ماشومانو د ساتنې د مشاورینو د ټاکنې له لارې پیاوړې کړي؛

" ۱۷. په یوه پراخ چوکاټ کې د روزنو، ښوونو او پیاوړتیا د هڅو له لارې د افغان امنیتي سکتور د عاملیت، مسلکی والی او حسابدهی په اهمیت ټینګار،څو د یوه خود کفا او له نژادي لحاظه د یوه انډول لرونکی امنیتي ځواک چې ټول هیواد ته امنیت برابر کړي او د قانون د حاکمیت څخه ډاډ حاصل کړي، د جوړیدو لپاره پرمختګ ګړندي شي؛

" ۱۸. په دې زمینه کې د افغان د ملي اردو د دوامداره پرمختګ او د هغوي د بهتر شوی توان د پلان جوړولو او د عملیاتو د پر مخ بیولو څخه ستاینه، د عملیاتي ښوونې او ارتباط د ټیمونو او دوامداره روزنیزو هڅو له طریقه تشویق، او د یوه پایداره دفاعي پلان جوړولو د پروسې او همدارنګه د دفاعي اصلاحاتو په نوښتونو کې مرسته کوي؛

" ۱۹. د افغان چارواکو وروستی هڅې ستایي چې د افغان ملي پولیس د ظرفیت په لوړولو کې یې کړې دي او غوښتنه کوي چې په دې لار کې هڅې نورې هم زیاتې کړي او د ولسوالیو د پولیسو د پرمختګ پروژې ته دوام ورکړي. په دې شرایطو کې د نړیوالې مرستې په اهمیت تاکید کوي چې مالي مرستې او ښوونې برابر کړي، او په دې زمنیه کې د اروپایي ټولنې له طریقه د هغوي د پولیسي ماموریت د برخې اخیستنې د اهمیت پر سر تاکید کوي؛

" ۲۰. د افغان حکومت هڅې د نا قانونه وسله واله ډلو په بندولو کې ستایي، د نړیوالې ټولنې په ملاتړ، د افغانستان د حکومت له خوا په دې هکله د لا زیات پرمختګ غوښتنه کوي؛

" ۲۱. په وروستیو کې د تریاکو د مخنوی په لار کې د پرمختګونو یادونه کوي او د تریاکو د مخ پر زیاتیدونکی کښت، تولید او قاچاق د جدي خطرونو په هکله چې د هیواد امنیت، پرمختیا، حکومت کولو او همدارنګه سیمې او نړۍ ته ورپېښوي خپله اندیښنه بیانوي، د نړیوالې ټولنې په ملاتړ له افغان د حکومت څخه غوښتنه کیږي چې د نشه يي توکو د کنترول د ملی ستراتیژۍ پلی کول ګړندی کړي او په دې لړ کې د معیشت بدیل لارې ولټوي او د نشه یې توکو سره د مبارزې پروګرام له ملي پروګرامونو سره وتړي او نړیوالې مرستې هڅوي چې هغه څلورګوني لومړیتوبونه تقویه کړي چې په دې ستراتیژي کې په ګوته شوي دي؛

" ۲۲. په هیوادونو غږ کوي چې د نشه یې توکو د نا قانونه تولید او قاچاق څخه د راپورته شویو ګواښونو په اړه چې له افغانستان څخه سرچینه اخلي او نړیواله ټولنه ورسره مخ ده نړیوالې او سیمه ییزې همکارۍ پیاوړې کړي او همدارنګه د پولو د اداره کولو د همکارۍ له طریقه او د مخدره توکو د نا قانونه قاچاق په وړاندې د مبارزې لپاره د همکارۍ رامنځ ته کول او د غیر قانونی پیسو پر ضد مبارزه چې د داسې قاچاق کولو سره ارتباط لري، د پاریس د تړون د نوښت د چوکاټ په د ننه کې، د افغانستان څخه د مخدره توکو د قاچاق د لارو په هکله د وزیرانو د کچې د دویم کنفراس د پایلو په نظر کې نیول، د ۲۰۰۶ کال د جون د میاشتې د ۲۶- ۲۸ نیټو (S/2006/598) د کنفرانس پریکړه لیک ، چې په مسکو کې د روسیې د فدراسیون د حکومت او د ملګرو ملتونو د مخدره توکو او جرمونو د دفتر UNODC له خوا جوړ شوې و؛

" ۲۳. او د دې تایید کوي چې ټول اړونده افغاني نهادونه او نور کسان باید دا پروګرام په خپل وخت سره په هماهنګ او منظم ډول تطبیق کړي. په دې منظور چې په هیواد کې یو عادلانه، روڼ عدلي سیستم جوړ شي او د هیواد په کچه د قانون حاکمیت پیاوړی شي او معافیت له منځه ولاړ شي؛

" ۲۴. په دې زمینه کې په افغانستان کې د بیا رغونې او د زندانونو د سکتور د اصلاحاتو د لا زیات پرمختګ په اهمیت ټینګار کوي ترڅو د قانون د حاکمیت او بشري حقونو د درناوی په برخه کې ښه والی رامنځ ته شي؛

" ۲۵. په امنیت، ښه حکومت کولو، د مخدره توکو پر ضد د مبارزې په هڅو او اقتصادي پراختیا باندې د مخ پر زیاتیدونکی اداري فساد د اغیزې په اندیښنې سره یادول، او د نړیوالې ټولنې په مرسته د افغانستان د حکومت څخه غوښتنه څو د اداري فساد په وړاندې په شدت مبارزه وکړي ترڅو د یوې اغیزمنې، حساب ورکوونکې او روښې اداري د رامنځ ته کولو لپاره خپلې هڅې لا زیاتې کړي؛

" ۲۶. د افغانستان ټولې اداري، د قانون جوړولو او اجرائیوی څانګو په ګډون د همکارۍ د روحیې په درلودلو سره کار کولو ته رابولي، د افغانستان د حکومت څخه غوښتنه کوي ترڅو د قانون جوړولو او عامه اداري چارو اصلاحاتو ته د ښه حکومت کولو او په ملي او فرعي کچو کې د بشپړې برخې اخیستې او حساب ورکولو پخاطر تعقیب کړي، پدې برخه کې د تخنیکي همکارۍ د برابرولو پخاطر په لا زیاتو نړیوالو هڅو ټینګار کوي؛

" ۲۷. نړیوالـه ټولنـه هڅـوي، چـې د افغانـستان لـه حکومـت سـره د ظرفيـت پـه لوړولـو او د بـشري سرچينو پراختيا په يو څو اړخيزه لومړيتوب ګرځولو کې مرسته وکړي؛

" ۲۸. د هيواد په کچه د بشري حقونو، اساسي ازاديو او نړيوالو بشر پالني قوانينو د بشپړ درنـاوي غوښتنه، په اندیښني سره د ډله ايزو رسنيو په وړاندې د مخ په زياتيدونکو محدوديتونو يادونـه، پـه هيواد کـې د بشري حقونو د درنـاوي د نظـارت او همدارنګـه د دغـو حقونـو د ودې او درنـاوي او د يـوې اکثريـت ګـرا مـدني ټولنې د ظهور او څرګنديدنې په هکله د افغانستان د بشري حقونو د خپلواک کميسيون د ميړنيو هڅو ستايل او د افغانستان د بشري حقونو له خپلواک کميسيون سره د ټولـو اړونـده فعـالينو د بـشپړې همکـارۍ پـه اهميت ټاکيد کوي؛

" ۲۹. په وروستيو کلونو کې په هيواد کې د جنسيت د چارو د برابروالـي پـه هکلـه د پـام وړ تـر لاسـه شوي پرمختګ پيژندنه، د ښځو او نجونو په وړاندې د خشونت او توپير د جاري بڼو کلکه غندنه، پـه ځـانګړې ډول هغه تاوتريخوالي چې ښوونځي تـه د نجونـو د تـګ مخنيـوی کـوي، د امنيت د شورا د ۱۳۲۵ (۲۰۰۰) او ۱۸۲۰ (۲۰۰۸) پريکړه ليکونو په پلی کولو ټينګار، د عمومي منشی څخـه غوښتنه کيږي چـې د امنيت شـورا ته په خپل رپوټ کې په افغانستان کې د يو ځای کيدو د پروسې په اړوند معلوماتو ته ځـای ورکـړي، چـې ښـځو ته په سياسي، اقتصادي او ټولنيز ژوند کې برخه ورکوي؛

" ۳۰. د افغان حکومت د هغو هڅو چې موخه يې د حکومت ضد عناصرو سره د ډيـالوګ رامنځ تـه کول دي، کوم چې د خشونت، تروريزم ترک کولو او د اساسي قانون منلو تـه تيـار دي ستاينه کـوي، د امنيت د شورا د ۱۹۹۹ کال د اکتوبر د ۱۵ د ۱۲۶۷ شميري پريکـړه ليـک او د امنيت د شـورا د نـورو اړونـدو پريکـړه ليکونو سره سم کيدل غواړي چې د تـوپيري طرفدارۍ څخـه پرتـه، د افغانـستان د تـړون ليـک مطـابق د سـولې، عدالت او پخلاينې په هکله د عمل د پلان د بشپړه پلی کيدو څخه د ډاډ د لا زياتو هڅو غوښتنه کوي؛

" ۳۱. د امنيـت د شـورا د کميټـې سـره چـې د ۱۲۶۷ (۱۹۹۹) پريکـړه ليـک پـه تعقيـب او د ۱۸۲۲ (۲۰۰۸) پريکړه ليک د پلی کيدو لپاره رامنځ ته شوه د افغانستان د حکومت او يونامـا د همکـارۍ ستاينه، او د هغو کسانو او ادارو پيژندل چې د القاعدې او طالبانو د فعاليتونو يا عملونو په ملاتړ او يا مالي مرستو پـه کولـو کې ګډون لري چې مالي لګښت يې د ناقانونـه مخدره توکو د کښت، توليد او قاچاق څخـه ترلاسـه کيږي، او د داسې همکارۍ د دوام تشويق؛

" ۳۲. د افغانستان، د هغه د ګاونډيو او سيمه ييزو شريکبانو له خوا د جاري هڅو هر کلـی چـې يـو لـه بله سره همکاري او اعتماد کوي، د همکارۍ د وروستيو نوښتونو په شمول چې د سيمه ييزو موسسو لـه خـوا جوړ شـوي، د ۲۰۰۸ کـال پـه ډسـمبر کـې د ترکيـې پـه استنابول کـې د پاکستان، ترکيـې او افغانـستان د درې اړخيزې غونډې او د فرانسې په لاسيلي ساينټ کلوډ کې د وزيرانو د غونډې په ګډون چې د ۲۰۰۸ په ډسمبر

کي جوړه شوي وه، او د طالبانو، القاعدي او نورو افراطي ډلو په وړاندي د افغانستان او نورو شریکبانو تر منځ د لا زیاتي همکارۍ او په افغانستان کي د سولي او ترقۍ په پیاوړتیا کي په اقتصادي او پراختیایي سکتورونو کي د یوې وسیلي په حیث د نړۍ او سیمي په اقتصاد کي د افغانستان د بشپړې یو ځای کیدني غوښتنه کوي؛

" ۳۳. د سیمه ییزې اقتصادي همکارۍ د پروسي د پیاوړي کولو او د سیمه ییزې سوداګرۍ د تسهیل د اقداماتو په شمول، په آسیا کي د ځمکنی پل په حیث د افغانستان د تاریخي نقش د یادوني او نړیوالي پانګووني او د زیر بنا د پراختیا غوښتنه کوي؛

" ۳۴. د سیمي او هیواد د ثبات لپاره د پاتي افغان کډوالو د خپلي خوښي، خوندي، منظمه راستانیدني او د پایداره یو ځای کیدلو درک کول، پدې برخه کي د لا زیاتي او دوامدارې نړیوالي مرستي غوښتنه کوي؛

" ۳۵. همدارنګه د داخلي بېځایه شویو کسانو د خپلي خوښي، خوندي، منظمي راستانیدني او د پایداره یو ځای کیدو درک او تایید کوي؛

" ۳۶. د عمومي منشي څخه غوښتنه کیږي چي له هرو ۳ میاشتو وروسته دې د افغانستان د وضعیت په هکله د امنیت شورا ته د دې پریکړه لیک په ۴ پراګراف کي د یوناما د ماموریت او لومړیتوبونو د پلي کولو او پرمختګ لپاره د معلوماتو په موخه په خپل وروستي راپور کي معیارونو ته ځای ور کړي او همدارنګه په ټولو اړونده فعالینو غږ کوي چي د یوناما سره په دې هکله همکاري وکړي؛

" ۳۷. پریکړه کوي چي موضوع ته به په فعاله توګه متعهد پاتي شي."

* *** *